# مقالی عنوان: په اسلام مبارک دین کې د چاپیریال ساتنې ارزښت
# لیکوال: روح الله هدف

اسلام یو کامل دین دی چې د ژوند هرې برخې ته شامل دي او په هر وخت کې د هر ډول ستونزو او مشکلاتو لپاره حل لارې لري. دا چې نن نړۍ د چاپیریالي ستونزو له یو لوی ناورین سره مخ ده او هره ورځ دغه ستونزې په پراخیدو دي او ورسره د خلکو اندیښنه ورځ په ورځ ډیریږي ځکه چې چاپیریالي ستونزې مستقیما د اسانانو په ژوند او د طبیعت په ژوندي او غیرژوندي عناصرو چې انسانان پرې د خپل ژوند د دوام لپاره تکیا کوی ګوابنوي، له لمنځه یې وړي او یا یې کیفیت او کمیت خرابوي.

د یو مسلمان په صفت مهمه داده چې مونږ د اسلام په مبارک دین کې د چاپیریال ساتنې د لوی مسوولیت پر اهمیت پوهه شو او د یو مسوول مسلمان ښاري په توګه د چاپیریال، د هغه د برخو او د ژوند د ښو ساتنه وکړو او له دولت سره په چاپیریال ساتنه کې خپله لازمه همکاری وکړو. د سیمیزو او نړیوالو چاپیریالي ستونزو لکه اقلیمي تغیر، د هوا، خاورې، اوبو، غړیزې او پلاستکي ککړتیا په کمولو او هم د ځنګلاتو، ونو، اوبو، د ښار په پاکوالي او د چاپیریال د مختلفو ایکوسیستمونو په ساتلو کې خپل لازم رول ادا کړو او انسانان، حیوانات او ځمکه، د ژوند لپاره یواځینې کره، د طبیعي او انساني کړنو له امله رامنځ ته شوي افتونو څخه وژغورو. اسلام ټل ټولو انسانانو ته د خپل ځان او چاپیریال د پاک ساتلو سپارښتنه کوي او د پاکوالی په اړه زمونږ پیغمبر حضرت محمد ص فرمایي:

**ژباړه: نظافت د ایمان جز دی.**

په اسلام مبارک دین کې د ځان او چاپیریال ساتنه دومره اهمیت لري چې د یو مومن د ایمان برخه یې ګرځولي ده. نو که څوک غواړي چې ایمان یې کامل شي باید خپل ځان او د چاپیریال پاکوالی ته ډیره پاملرنه وکړي.

**په اسلام کې د چاپیریال نظریه**

قرانکریم هغه مقدس کتاب دی چې د وخت  هرې پوښتنې لپاره ځواب لري او آلله ج یې په اړه فرمایي:

**ژباړه:** مونږ په کتاب کې (یعنی لوح محفوظ کې) څه کمي نه دي پریښودي. (الانعام:۳۸)

نو د ژوند چاپیریال هغه ځای دی چې الله ج پکې د انسانانو د ارامه ژوند لپاره اوبه، اکسیجن او نور مهم ګازونه، خاوره چې د زراعت ذریعه ده، بحرونه، ځنګلونه او ونې، حیوانات، د انرژۍ لپاره لمر او د شپې د رڼا لپاره سپوږمې، د لمر د خطرناکو وړانکو د محوه کولو لپاره په اتمسفیر کې د اوزون طبقه، او داسې نورو بې شمیره نعمتونه په دې خاص چاپیریال کې  د ژوند د چارې ساتلو لپاره پیدا کړي. چاپیریال ساتنه په اسلام کې ډیر ارزښت لري او د دغو نعمتونو ساتنه د اسلامي امت مسوولیت دي. باید چې مسلمانانددې بې شمیره نعمتونو په ساتلو سره د خپل رب ج شکر ادا کړي او خپل راتلونکې نسل ته یې د نعمت پڅیر وسپاري.

چاپیریال د هغو طبقو مجموغه ده چې انسانان او نور ژوندي موجودات پکې ژوند کوي. دا یوه انساني او طبیعي پدیده ده. چاپیریال د انسانانو پر ژوند او یا هم د انسانانو کړنې د چاپیریال په نورو ژوندي او غیر ژوندي عناصرو مثبت یا منفي تاثیرات لري او انسانان ټل د خپلو ضروریاتو د پوره کولو لپاره د چاپیریال د نورو برخو سره په اړیکه کې دي. د چاپیریال پوهنې د علم له نظره چاپیریال د هغو حالتونو، موادو او اړیکو مجموغه ده چیرته چې ژوند شتون لري.

**حالتونه لکه:** اقلیمي عناصر لکه تودوخه، نمي، رڼا او یا په چاپیریال کې شته طبیعي قوې.

**مواد لکه:** ډبرې، اوبه، خواړه، لرګي، ګازونه او داسې نور او

**اېريکې:** چې په دوه ډوله دي چې يو يې کيمياوي او فزيکي تغيرات او دوهم د هغه اېريکو څخه عبارت دي چې د ژونديو موجوداتو په ودي پورې اړه لري. چې د اېريکو دغه ساحه يا تر يوې سيمې پورې محدوده وي لکه د يو ژوندي موجود او د هغه د نږدې چاپېريال تر منځ اړيکه او يا هم دغه اړيکې پراخې او نړيوالې وي لکه نړيوال اقليم، د اوبو نړيوال دوران او يا د بادونو حرکتونه.

الله ج چې کله ځمکه د انسانانو د ژوند لپاره تياره کړه، نو د ژوند لپاره يې مساعده وګرځوله. ونې او بوټي، بحرونه او د ورځې او شپې لپاره لمر او سپوږمې پيدا کړه او طبيعت يې د انسانانو د اسانې لپاره د دوی طابع وګرځو. چې آلله ج يې په اړه د قرانکريم په لاندې ايتونو کې داسې فرمايي:

**ژباړه:** بيشکه د اسمانونو او ځمکې په پيدايښت کې، د شپې او ورځې په تګ راتګ کې، په هغې کښتۍ کې چې د خلکو د ګټې لپاره په درياب‌ونو کې ګرځي او په اوبو (باران) کې چې الله ج له اسمانه را نازلې کړي دي او بيا يې ځمکه وروسته د هغې له مرګ نه په اوبو راژوندۍ (خړوبه) کړه او په هغې (ځمکه) کې يې هر ډول ژوندي خوځېدونکي خواره کړل (هر لوری ته) د بادونو په چلېدو کې او وريځو کې چې د ځمکې او اسمان تر منځ ابل کړای شوي دي، يقينا په دې (ټولو) کې د عاقلانو لپاره (د الله تعالی پر وجود او وحدانيت) څرګند دلايل شته. (البقره:۱۶۴)

**په سورت النبا کې الله ج ددې په اړه داسې فرمايي:**

**ژباړه:** د څه شي نه تپوس کوی دی خپلو کې، د هغې واقعې لوی نه هغه واقعه چې دوی په هغې کې اختلاف کوی. داسې نه ده زر ده چې پوهه به شي دوی، بيا داسې نه ده زر ده چې پوهه به شي دوی. ای نه ده ګرځولې مونږ ځمکه فرش او غرونه ميخونه او پيدا کړی مې يې تاسو جوړی (نر او ښځه) او ګرځولې مې دی خوب ستاسو لپاره ارام او ګرځولې مې ده شپه (تاسو لره) پرده او ګرځولې مې ده ورځ وخت د معاش او جوړ کړی دی مونږ د پاسه ستاسو اووه اسمانونه محکم او ګرځولې ده مونږ (په اسمان کې لمر) چراغ پرقيدونکي او نازل کړی دی مونږ د وريځو نه اوبه ډيرې وريدونکي دی لپاره چې راوباسو پدې سره دانې او ګياګانې او باغونه ګڼ نښتي يو بل سره. (النبا:۱-۱۶)

مګر انسانانو ته يې هم د دوی د ساتلو لپاره مهمې سپارښتنې، لارښوونې او امرونه کړي دي او له هغو کړنو څخه يې منعه کړي دي چې طبيعت او نورو ژونديو موجوداتو ته تاوان رسوي.

**الله ج فرمايي:**

**ژباړه:** او په ځمکه کې ددې د اصلاح نه وروسته فساد مه کوئ. (الاعراف:۵۶)

**ژباړه:** او دوی په ځمکه کې فساد کوي، حال دا چې الله ج فساد کوونکو لره نه خوښوي. (المائده:۶۴)

مثلا په ځمکه کې دغه کړنې لکه زراعتي خاورې له منځه وړل او کورونه پرې جوړول، د خاورې د ککړتيا خيال نه ساتل او يا هم زراعتي خاوره او ځنګلونو په دښتو بدلولو څخه عبارت دی.

په اسلام مبارک دين کې طبيعي منابعو اهميت بار بار ياد شوي دي د بېلګې په ډول يوازې اوبه په قرانکريم کې ۶۳ ځلې يادې شوي دي. په مختلفو ايتونو او حديثونو کې يې اوبو ته د څښلو، د ونو او سبزيجاتو، د سبزيجاتو د ډولونو، د ارامې، هيلې، اميد، تباهې، عذاب، د انساني نفوذ د ودې او تمدن، ترانسفورټ، خوړو او د ژوند خطاب شوي دي. مسلمانان بايد ددې فايدو په اوريدو سره د اسلام په مبارک دين کې د چاپېريال ساتنې ارزښت درک کړي او د اوبو د ککړتيا او اصراف څخه ډډه وکړي تر څو د هغه ناروغيو مخنيوي وکړای شوو چې د ککړو اوبه له امله د انسانانو او نورو ژونديو موجوداتو تر منځ خپرېږي

انسانان خپل ضروريات د حيواناتو څخه هم پوره کوي چې هغوي خپل خواړه د نباتاتو څخه لاس ته راوړي.يو غوره چاپېريال هغه دي چې په ونو او کښتونو سمسور وي. کښت، ونې او بوټي په اسلام کې ځانګړی مقام لري او د مومن مسلمان

لپاره د ثواب او صدقې يوه مهمه وسيله ده. د فصلونو، ونو او ځنګلونو قطع کول مو د ککړتيا، سيلابونو او د لوږې د ګواښ سره مخامخ کوي.

حضرت محمد ص په يو حديث کې د دوې د ارزښت په اړه داسې فرمايي:

ژباړه: له حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر ص وفرمايل: څوک چې ونې کينوي او يا کښت وکړي او بيا له دغې ونې او کښت څخه مرغه يا انسان او يا څاروی ګټه واخلي په رېښتيا چې دغه ټول ورته صدقه ګرځي او ثواب يې ورکول کېږي.

ځنګلات د ځمکې د سږو حيثيت لري. ځنګلات د هغه بې شميره محصولاتو ذريعه ده چې زمونږ ورځنی ژوند پرې ولاړ دي. هوا صافوي او په اتمسفير کې د مهمو ګازونو ساتنه کوي نو ددوې ساتنه زمونږ د هريو مسووليت دي حتي چې حضرت محمد ص مسلمانان د جنګ په حالت کې هم د ونو او فصلونو د قطع کولو او د حيواناتو له وژولو څخه منع کړي ده.

الله ج په طبيعت کې هر څه په يو ټاکلې مقدار سره پيدا کړي دي

ژباړه: مونږ هر څيز لره په ناپ او تول سره پيدا کړي کړې دی. (القمر:۵۴)

او دغه انډول د طبيعي پروسو مثلا اقليم، د اوبو دوران او يا د يوې نوعې د پيدايښت (Birth rate) او مرګ (Death rate) يې د دغو پروسو د سالم پرمختګ لپاره اړين ګرځولې دي. مونږ ټولو ته پکار ده چې ددغې تعادل ساتنه وکړو، خپل او د نورو ژونديو موجوداتو د ژوند چاپيريال د طبيعي او د انساني کړنو په نتيجه کې د رامنځ ته شوو افتونو څخه محفوظ کړو.

د مثال په ډول اقليمي تغير د انسانانو د هغو کړنو په نتيجه کې منځ ته راغلي چې په اتمسفير کې د ګل خانه يي ګازونو (Greenhouse Gases) مقدار له خپل اصلی تعادل څخه بې ثباته او ډير کړي دي چې په نتيجه کې د ځمکې کره مخ په ګرميدو (Global Warming) ده او د انسانانو سياسي، اقتصادي او ټولنيز ژوند يې د خطر سره مخ کړي چې په تير نږدې وخت کې په فراه ولايت او نورو ولايتونو کې سيلابونه د اقليمي تغير د ويجاړونکو تاثيراتو ښکاره بيلګې او شواهد دي. اقليمي تغير همداسې د ژوند د بنو يا حيات تنوع (Biodiversity) لپاره دخطر او د لمنځه وړلو (Extinction) سبب دی.

بايد مږنږ ددغه تعادل ساتنه وکړو او داسې کړنو اختيار کړو چې د طبيعت سره دوستانه او د چاپيريال د اصولو او قوانينو سره په ټکر کې نه وي. بايد د چاپيريال د منابعو څخه د استعمال پر وخت له اصراف کولو ډډه وشي او ددغو شتمنيو د بيا نوې کيدو موده په نظر کې ونيول شي. دا نظريه د چاپيريال او پرمختګ په اړه د نړيوال هييت لخوا په ۱۹۸۷ ميلادی کال کال راپور "زمونږ ګډ راتلونکي Our Common Future" کې د تلپاتې والي يا Sustainability پنامه ياده شوې ده. په ۲۰۱۵ ميلادی کال کې د ملګروملتونو لخوا د تلپاتې پرمختک هدفونه (Sustainable Development Goals) پروګرام په کار واچول شو. د تلپاتې والي تعريف داسې دي چې د چاپيريال د منابعو څخه په داسې شکل استفاده وشي چې راتلونکي نسل د هغه د کمبود سره مخ نشي مګر اسلام مبارک دين بيا مونږ په هر څه کې د اصراف کولو څخه منع کړي يو چې دا ددې مقدس دين په هميشه والي او په اسلام کې د چاپيريال ساتنې په اوږد مهاله ارزښت دلالت کوي.

نو دې نتيجې ته رسيږو چې چاپيريال ساتنه د مسلمانانو انفرادي او ټولنيز مسووليت دی. مونږ مکلف يو چې ددغه بې شميره نعمتونو چې د ژوند په چاپيريال کې موجود دي ساتنه وکړو او ددوې د بې ځايه استعمال، ککړتيا او له لمنځه وړلو څخه ډډه وشي. الله ج انسانان او پيريان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دی. عبادت يوازې تر لمونځ، روژې او حج محدود نه دی او د ژوند هر برخې کې د الله ج پيروي ته شامل دی. چاپيريال او د هغه د ايکوسيټونو ساتنه، د اوبو، هوا، پلاستک، خاورې او غږيزې ککړتيا مخنيوي کول، د ملي منابعو صادقانه استعمال او د ژوند د بنو ساتنه دا ټول د عبادت يو مهم جز دی ځکه ددې کارونو په کولو سره مونږ نورو انسانانو، حيواناتو او نباتاتو چې د خپل حق لپاره اواز نلري دوې ته خير رسو او يو چاته خير رسول الله ج او د هغه رسول ص ته خوښ عبادت دی. د چاپيريال ساتنې خيال نه ساتل د الله ج نافرماني ده او د

هغه د نعمتونو ناشکري کول دي او مومن مسلمان د ایمان د پوره والی څخه بې برخې پاتې کوي چې باید هر مسلمان ترې ځان او نور وساتي.

**چاپیریال ساتنه عبادت دی.**